مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اسحاق ننګیال

۲۰۲۴/۰۴/۰۹

# غزل

شوګیر چې درته شپو پر څنو مات راوړی دی
یو خوب مې درته سترګو کې سوغات راوړی دی

دا ډک جام چې نن ربړدي په لاسو کې د فرعون
موسی له کوه طور څیني تورات راوړی دی

دا چا ویل چې وږې دېښتون شولې حجرې ؟
دي وږو میکائیل ته هم خیرات راوړی دی

شپېه پر لمبو سره ده او شپېه پر ګلو سره
دې خاوري کله جل ،کله برسات راوړی دی

سپیڅلی مسلمان دی خو یې زده نه شوه سجده
دې قام ته خدای دخپل غرور زکات راوړی دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ